# دحضرت محمد(ص) نیکمرغه میلاد

د ربیــــع الاول دولســـــمه دا ســـــلام د سترلارښود حضرت محمد (ص) د زوکړې له ورځې سره برابره ده. دغه نیکمرغه ورځ هر کال په ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړې توګه افغانستان کې د ختمونو په ترسره کولو سره لمانځل کیږي. دبشریت ژغورنکي او د اسلام سترلارښود حضرت محمد (ص) په ۵۷۱ زیږدیز کال د دوشنبې په ورځ د عبدالله بن عبدالمطلب په کور کې وزیږیدل.

حضرت محمد مصطفی (ص) ته څښتن تعالی له بدمرغیو، د ناپوهیو له تیارو د انسان د ژغورلو؛ د اجتماعي عدالت او د انسان د روحي آرامتیا د تامین او د بشر د اخلاقي روزنې ستر رسالت ورسپارلی ؤ.

آنحضرت (ص) دا رسالت په کامل امانت او بري سرته ورساوه؛ د دې رسالت د پوره کیدو په لار کې یې هر راز کړاونه او ستونزې په خورا حوصله مندۍ او زغم سره وګالل او بشریت یې د اسلام د مقدس دین په انوارو منور کړ.

له بعثت نه وړاندې انساني ارزښت خپل مفهوم له لاسه ورکړی ؤ، د انسان هسکه غاړه په کاڼو، بوټو، لوټو او لرګیو ته ټیټېدل. انسان به د ځارویو په څیر د بتانو په دربار کې حلالیدل او انسان به ژوندي په خاوره خښبیدل.

حضرت محمد (ص) هماغسې د انسانیت په اړه د نور د غره په سمڅه کې ناست ؤ، چې د سپیده داغ په مهال ورته د انسانانو د څښتن رب العلمین له خوا د خلاصون پرښته راغله او هغه ته یې د انسانیت د نجات او لارښوونې ډیوه په لاس کې ورکړه او ورته ویې ویل: ((د هغه پالونکي په نامه لوستل پیل کړه، چې دا هرڅه یې پیدا کړي، انسان یې له یوې ټوټې وینې پیدا کړی، ولوله ستا پالوونکی ډیر مهربانه او ډیر قدرمن دی، هغه ذات دی، چې په قلم سره یې ښوونه وکړه او انسان ته یې هغه څه ورزده کړل، چې هغه پرې نه پوهیده.)) نو په دې توګه حضرت محمد (ص) د کایناتو د خالق او مالک له لوري د انسانانو د هدایت او لارښوونې لپاره وګمارل شو او په پیغمبري مبعوث شو.

اسلامي علماء او د نړۍ ټول اسلام پوهان په دې عقیده دي، چې د نبي کریم (ص) ویاړلی شخصیت د بهترینو صفاتو او عالي خصلتونو څښتن ؤ او د بشریت د لارښوونې په لاره کې یې بې ساري هڅې، ارشادات، خبرې او نظریات یې ستر ارزښت لري.



حضرت محمد مصطفی (ص) د ښو اخلاقو درلودونکی ؤ، تل به یې خلکو ته درناوی کاوه، پر ماشومانو باندې ډېر زیات مهربان ؤ، له ستونزو او کړاونو څخه یې وېره نه درلوده، هېڅکله یې هم چا سره په کبر او غرور خبرې او رفتار نه کاؤ، نظافت او پاکوالي ته یې خورا زیات اهمیت ورکول او تل به پاک او خوشبویه ګرځېدل، علم سره یې زیاته مینه وه او خلک به یې تل د علم د زده کولو لپاره هڅول ښه امانتدار ؤ او امانت کې به یې خیانت نه کول. د درواغو او چل نه به یې پرهېز کول او د پیغمبر (ص) همدا ښه اخلاق د دې سبب شول، چې د اسلام دین پر اختیا وموندله او ډیرو خلکو د اسلام دین ته مخه کړه او مسلمانان شول.

حضرت محمد (ص) په پنځه ویشت کلنۍ کې له بي بي خدیجې سره واده وکړ او په څلویښت کلنۍ کې د لوی او سپیڅلي خدای (ج) له لوري په پیغمبري مبعوث شو او د پیغمبري په ۲۳ کلنه دوره کې قران عظیم الشان پرې نازل شو او د اسلام د خوراوي په موخه یې ۳۰ غزاوې وکړې او د ۶۳ کلونو په عمر یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

راځئ، چې د دې ستر پیغمبر ستر پیغام په سرا وسترګو ومنو، غاړه ورته کیږدو، خپل ژوند پرې جوړ کړو او په دې توګه خپل ارزښت ترلاسه کړو.

په پای کې د لوی څښتن تعالی دربار ته لاسونه لپه کو، چې الله تعالی دې زموږ د مسلمانانو ټول اعمال، تل پر اسلامي ارکانو، تعالیمو او د حضرت محمد (ص) پر لارښوونو برابر لري او د سرور کاینات د بختور میلاد په فضیلت دې زموږ هیواد له هر ډول بلاو او آفتونو وژغوري او د ګران افغانستان ټول ولس ته دې الله تعالی توفیق ورکړي، چې خلکو ته د خدمت له لارې خپل هیواد سمسور او ښیرازه کړي.

د میلاد النبي (ص) د نیکمرغه جشن برکت دې تل زموږ ټولو د سر سیوری وي!

**لیکنه: شیرمحمد امیني «ستانکزی»**

# نقش زنان درزندگی اجتماعی

انسان ها ازبدوی پیدایش تا حال درمحیط واجتماع شان تکامل نموده اند، اگردراجتماع مردم آگاه مشمول زنان ومردان زندگی نمایند بعید نخواهد بود که این مردم با پیشرفت ومدنیت بیشتری دست خواهند یافت.

جامعه از فکر انسان های تشکیل می شود که با تربیت ها و فرهنگ های متفاوت از خانواده ها شکل می گیرد و وارد اجتماع می گردند.

ایشان در تعامل با هم آداب، سنت ها، نظام ها و قانون های خاص را به وجود می آورند که دراثر پیوند با یکدیگر، ماهیت اجتماعی پیدا می کنند.

بنابراین سعادت و سلامت هر جامعه در خانواده ها پی ریزی می شود و انتقال ارزش های دینی، ملی، فرهنگی و اجتماعی در درجه اول به عهده خانواده ها به خصوص مادر است. پس می توان گفت که جامعه سالم نیازمند مادران سالم است و جامعه فرهنگی، دینی جامعه است که مادران آن از بینش و تفکر سالم فرهنگی، دینی و ارزشی برخوردار باشند.

زندگی اجتماعی زنان درهرجامعه یک مسئله بسیار مهم به شمار می آید، در جامعه افغانستان نیزنقش زنان در زندگی اجتماعی مهم می باشد، اصل ارزش های آزادی اجتماعی مطابق به دساتیردین اسلام وزیرچتراسلام ګام نهادن زنان نقش اصلی آنان را درجامعه تبارز میدهد.

مطابق قوانین اسلام حق تحصیل در مکاتب، پوهنتون ها و نهادهای آموزشی میتوانند موفقیت‌ها باشد دررشد و شګوفایی و توسعه جامعه و زنان با استفاده از این فرصت های میتواند جامعه را بیشتر بسوی رفاه وشګوفای سوق دهد.

توسعه جامعه، زمانی می‌تواند در یک کشور موفقیت‌آمیز باشد که با کمک و مشارکت همه گروه های اجتماعی از جمله زنان اجرا شود. در میان گروه‌های اجتماعی زنان نیمی از پیکر جامعه را تشکیل می‌دهند.

آموزش یکی از مهمترین وسیله میباشد که موفقیت زنان را بالا برده و به‌آنان به‌صورت مستقیم قدرت شان رادر جامعه نمایان میکند، آنها میتوانند در توسعه و مشارکت دست بالا داشته باشند.

قشرزنان به توانایی های خود باید بیشترباورمند باشند وتلاش نمایند که خود را با علوم دینی وعصری آراسته سازند تا با دید کامل وبشکل آګاه بدون آنکه شکاراهداف دشمنان اسلام قرارګیرند دررقم زدن آینده شان تدبرنمایند.

انګیزه های فوق اعتماد به نفس بیشتری را بین زنان به وجود میآورد، که خود نهایت به ارتقاء و توسعه اجتماعی، اقتصادی در جامعه روبرو میګردد. همچنان زنان کشور درجنګ و جنایات، خشونت، و فساد دست نداشته، میتوانند نقش اساسی را در آوردن صلح و امنیت درکشور نیز ایفا کنند.

باوجود آنکه درشرایط پیچیده کشور، زنان همواره قربانی انواع خشونت ها شده اند اما زنان افغان شهامت شانرا ازدست نداده اند وکنارمردان دربهبود اجتماع تاحدی تلاش کرده اند.

عنعنات ناپسند جامعه و سطح پایین آګاهی در میان مردم همواره باعث بروز خشونت علیه زنان وکشمکش ها درخانواده ها ګردیده است که نظام خانواده ګی را تاحدی به چالش ها مواجه کرده است.

دراخیر میتوان ګفت که مطابق به ارشادات دینی اګر درعرصه فعالیت های زنان درجوامع، بخش های تعلیمی، آموزش های اسلامی، علوم عصری وبخش های اجتماعی توجه صورت ګیرد، زنان میتوانند دررقم زدن آینده کشورنقش بارز داشته باشند.

**ترتیب کننده امین الله «صفا»**

## لوګر پیژندنه / لوګرشناشي: موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!

# بُرک کلی

**بُرک کلی د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ ختیځ ۲۲ کیلومتړۍ کې موقعیت لري.**

**د بُرک کلي شمال لور ته د جمهور رییس محمداشرف غني کلی (سُرخاب)، سویل لور ته یې دریاخان کلی، ختیځ ته یې سلطان صاحب غر او لویدیځ ته یې زرغون ښار کلی موقعیت لري.**

**په دې کلي کې یوه لیسه، یو کلینیک او یوه مدرسه شتون لري. د برک کلی خوندور بادام، زردالو، شفتالو، توت، آلوبالو او منې لري.**

**د برک کلي بادام په ټول افغانستان کې نوم لري او کروندګر یې د کال په اوږدو کې ښه حاصلات ترې اخلي او دغه راز د بادامو یو من شا او خوا (۴۰۰۰) افغانۍ قیمت لري. ددې کلي اوسیدونکي د نورو سیمو وګړو په دود اخترونه په شاندارو مراسمو لمانځي، د خپلو خپلوانو کره ځي، میلې او میلمستیاوې کوي او د اخترونو په دریو ورځو کې د غرمې ډوډۍ په کلي کې په نوبت سره ورکول کیږي. د برک کلي اوسیدونکي په غمونو او ښادیو کې د یو بل ملاتړ کوي، په سختیو کې لاس سره ورکوي او یو بل سره پوره همکاري کوي.**



**د ودونو مراسم یې هم خوندور وي، د واده شپه په ځانګړو مراسمو او خندورو شیبو لمانځل کیږي. د کال د منې په موسم کې ځانګړی رسم او رواج لري، ځرب پسونه لاندې کیږي او بیا یې د ژمي په یخو ورځو او شپو کې پخوي او نوش جان کوي یې او دغه راز بادام، وچ توت او نورې میوې هم د ژمي لپاره ذخیره کوي او بیا په هماغه موسم کې ګټنه ترې پورته کوي.**

**برک کلی ښکلې طبعي منظره لري، پاکه هوا او یخې اوبه یې نامداره دي، خلک یې مینه ناک او نرم مزاجه دي.**

**را لیږونکی: انجینر محمد داود «عادل»**

# قریه کځوال

**قریه زیبای کځوال درسه کیلومتری ولسوالی ازره لوګر موقعیت دارد، اسم این قریه زیبا ازکلمه کڅ ګرفته شده است که معنی ساحل یا کنار دریا را ایفاده میکند، قریه یاد شده ازلحاظ طبیعی میان دو دریا قرار ګرفته است که به زیبایی ومناظر آن بیشترافزوده است.**

**ازلحاظ زراعتی یک قریه غنی ودارای زمین های زراعتی، حاصل خیزو آب فراوان میباشد که ګندم، جواری وسبزیجات درآن جا کاشته میشود وهمچنان چهارمغز، سنجد، توت، سیب، زردالو، بادام وبعضی میوهای دیګردرزمین های زراعتی قریه کځوال خوب حاصل میدهد.**

**باشنده ګان این قریه برای حل مشکلات شان به فیصله های بزرګان ازطریق جرګه احترام میګزارند وبا سایرقراء وقصبات این ولسوالی روابط نیک وحسنه دارند، درقریه مذکور یک باب مدرسه ویک باب مکتب وجود دارد که برای کسب علم ودانش ازمناطق دیګرنیز به آنجا میروند.**

**یک بازار کوچک دراین قریه وجود دارد که بنام بازار پله یاد میشود، درکنارکشاورزی برخی باشندګان این محل به تجارت نیز مصروف هستند، مشمول بازی های (ورزشی) جهانی سنګ انداختن، بازی هوسی وبرخی بازی های دیګررا جوانان بعضی اوقات میان شان انجام میدهند.**



**هموطنان مان دراین قریه رسم ورواج خاصی دارند، میله، مشاعره، شعرجنګی، نشست های شبانه میان جوانان، تجلیل با شکوه از روزهای عید وتجلیل برخی روز های ملی دیګر، بخش فعالیت های فرهنګی آنان را انعکاس میدهد.**

**دراین قریه مردم شعردوست وشاعران نیز زندګی میکنند که از قاري ثنا ګل و غنم رنګ کوچی که دارای آثارهم میباشند میتوان یاد آوری نمود. مناظر زیبایی طبیعی، کوه ها، دره های سرسبز و دو دریا زیبندګی بیشتر به آن بخشیده است، مردم آن مهمان نواز وبا محبت میباشند.**

**فرستنده: انجینر عبدالحق «احساس»**

**ترجمه و تصحیح: «سلطانی»**

# پادخواب شانه

**د پادخواب شانې کلی او ښکلې سیمه له مرکز پل علم څخه سویل لوري ته په ۳ کیلومتړۍ کې موقعیت لري.**

**ختیځ طرف ته یې د اخندخیلو کلی، لویدیځ طرف ته یې د الیاس خان بابا کلی، شمال طرف ته یې د حصارک کلی او سویل طرف ته یې د آبچکان کلی موقعیت لري.**

**په پادخوابې شانې کلي کې تر شپږ زرو (۶۰۰۰) زیات کورونه شته او نفوس یې کابو (۲۴۰۰۰) تنو ته رسیږي او دوه لوی جوماتونه لري، چې یو یې د مزار په نامه یادیږي او بل یې هم د عیدګاه جومات په نامه یادیږي. په دغه کلي یو روغتیایي کلنیک، ۴ دیني مدرسې او ۵ ښوونځي شتون لري، چې یو یې هم د حامد کرزي عالي لیسه ده، دوه لومړني او دوه نور یې منځني ښوونځي دي اوترڅنګ یې ۳ لومړني ښوونځي د انجونو لپاره په نوموړي کلي کې فعالیت لري.**

**په پادخوابې شانه کلي کې خلور لوی قومونه سادات، مهمند، ستانکزي او تاجک اوسیږي.**



**په دغه کلي کې ځوانان د ورزش سره خورا مینه لري اود کرکټ، والیبال او فوټبال لوبې ترسره کوي. ددغه کلي زراعت انګور، زردالو، منې، جواري او غنم دي، چې تقریبا ۷۰٪ خلک یې د کرنې کارونه مخته وړي او ۳۰٪ خلک یې آزاد تجارت او د تعلیم په برخه کې بوخت دي.**

**راټولوونکي: خالد قیومي «مومند»**






**حلیب ګل ملال**

کتابونه ستا د روان ژوند هغه دوستان دي چې په تیارو کې څراغونه درکوي، رڼا ته یې ښه په خوند قدمونه وهلی شې، خو غوره کتابونه.



**Islamuddin Baha**

خوشبختی سراغ کسانی میرود که خندیدن را بفهمند.این زندګی نیست که زیباست این ما هستیم که زندګی را زیبا یا زشت می بینیم. دنبال رسیدن به یک خوشبختی بی نقص نباشید از چیزهای کوچک زندګی لذت ببرید اګر آن ها را کنار هم بګذارید می توانید کل مسیر را با خوشحالی طی کنید.



**Mohammadullah Aryen**

ژوند د سړو او ترخو تجربه کول دي که ډیر رازونه ویل نه غواړئ ځینې یې ددې لپاره چې نور ترې زده کړه وکړي ووایی او ولیکی. هغه څه چې په ما/تا تیریږي شوني ده نور هم ورسره مخ شي کله کله خوله پرانیزئ او قلم را واخلئ ووایی او ولیکی. دا نن چې موږ د ښو او بدو تفکیک کړای شو، په ګټه او تاوان پوهیږو دا مو له نورو زده کړي موږ هم مسولیت لرو چې نورو ته څه پریږدو.



**عبدالاحمد فیضی**

نخستین قانون موفقیت تمرکز است. یعنی همه نیروهای خود را روی یک نقطه متمرکز کنید، مستقیماً به سراغ همان بروید به چپ و راست منحرف نشوید.



**M Ishaq Stanikzai**

د یوې ټولنې په بیا جوړونه، پرمختګ او سوله ییز ژوند کې د یوه هیواد وګړې د بیلګې په توګه ځوانان، تر ټولو اړین او لویه ونډه لري. خو دا هغه وخت شوني ده، چې ټول هیوادوال سره یو موټی او یو لاس د همدې هدف لپاره بې ساري هڅې او ګړندي ګامونه اوچت کړي.

# افغانستان!

**سوزیدلی یې په اور افغانستانه**
**زه ګټمه دې په زور افغانستانه**
**په هرلوري به دې وکرم ګلونه**
**راته ګران یې لکه وروړ افغانستانه**
**افغانان به یوځل بیاسره یوځای کړم**
**تابه زه کړمه ټکور افغانستانه**
**نور یوبل نه وژنوټول موږسره یو؛یو**
**ځان ته نه پریږدو پیغور افغانستانه**
**ای وطنه تابه خپله موږ رنګین کړو**
**یې مو پلاراوهم مو مور افغانستانه**
**زه خویمه په دعا د رب دربارته**
**چې په عام شي سمسور افغانستانه**
**نوربه ورکې کړم تیارې رڼابه راوړم**
**ته مې زړه، ته خومې کور افغانستانه**
**په میړانه به دې ساتمه تر مرګه**
**په غیرت یې زمونږ نور افغانستانه**
**بس (مهمنده) چې په سترګو راته نشي**
**سوربیرغ زرغون او تور افغانستانه**

**شاعر: نصیب الله «مهمند»**